سلام خان ۲۰۱۱/۰۱/۲۶

# دمعترضو کاندیدانو سره دولسمشر کرزی دخبرو مکمل جریان

د ولسي جرګې یو شمېر معترضو کاندیدانو د افغانستان د اسلامي جمهوریت له جمهور رئیس حامد کرزي سره په کتنه له هغه وغوښتل چې د انتخاباتي درغلیو د څېړنې د ځانګړې محکمې د پریکړې تر اعلام پورې ملي شورا پرا نه نیزي. په دې کتنه کې چې نن غرمه د جمهوري ریاست د سلام خاني په ماڼۍ کې ترسره شوه، محمد داود سلطان زوی، فضل کریم ایماق، نجیب اله مجاهد، حمیدالله توخي، حاجي فرید، فضلي او یو شمېر نورو خبرې وکړې او د هېواد له جمهور رئیس څخه یې وغوښتل چې د ۱۳۸۹ لمریز کال د ولسي جرګې د انتخاباتي درغلیو د څېړنې د ځانګړې محکمې د پریکړې تر اعلانیدو پورې ملي شورا پرا نه نیزي.



په دې کتنه کې داوود سلطان زوی د۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې انتخابات له درغلیو او سرغړونو ډک وبلل او وې ویل د ستري محکمې په وړاندیز او د تاسو جلالتمآب په منظورۍ د دغو انتخاباتو د درغلیو د څېړنې لپاره یوه ځانګړې محکمه وټاکل شوه او پریکړه وشوه چې دغه محکمه به د ۱۳۸۹ لمریز کال د کب د میاشتې تر دریمې نیټې پورې خپله پریکړه اعلانوي او له هغې وروسته به د هېواد د جمهور رئیس له خوا ملي شورا پرانیستل کیږي چې له بده مرغه په دغې پریکړې باندې عمل ونشو او دا دی اوس تاسو تصمیم نیولی چې سبا ملي شورا پرانیزی، په داسې حال کې چې هغوی قسم خوړلی چې دغه نظام به رانسکوروي نو تاسو څنګه داسې کسانو ته سوګند ورکوی؟.

سلطان زوی وویل زموږ پوښتنه داده چې موږ په کوم افغانستان کې ژوند کوو په هغه افغانستان کې چې د دې هېواد په خلکو پورې اړه لري او که په هغه افغانستان کې چې برخلیک یې په یو ناما او د بهرنیو هېوادونو په سفارتونو پورې تړلی دی.

سلطان زوی وویل: که زموږ غوښتنو ته مثبت ځواب ونه ویل شي نو موږ به د خپل ورک شوي افغانستان د لټولو لپاره غرونو ته پورته شو.

حمیدالله توخي په دې کتنه کې وویل : که یو ځل دا خلک پارلمان ته ننوتل او پارلماني مصونیت یې ترلاسه کړ بیا پرهغوی څوک د محکمې پریکړې نه شي عملي کولی. ده زیاته کړه: دا چې تاسي زموږ غوښتنې نه اورئ نو موږ نوره دعوه نه کوو او په افغانستان کې هم نه اوسیږو ځکه موږ ته خپل خلک وایي چې موږ خو تاسو ته رایه درکړه ولې له تاسو نه دغه رایه په شش درک کې د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون واخیستله؟. نو موږ مجبور یو چې غره ته وخیژو. په دې کتنه کې فضل کریم ایماق وویل: موږ بې انصافه خلک نه یو په دې پوهیږو چې په دغو کسانو کې چې تاسي یې سبا ملي شورا پرانیزی داسې خلک هم شته چې په رښتیني توګه یې رایه ترلاسه کړې ده خو ډیر یې د سیاسي ناروغیو لرونکې او په تقلب راغلي کسان دي. ددې لپاره چې درغلۍ وڅېړل شي نو ملي مصلحت په پام کې ونیسی او اجازه ورکړئ چې ستاسو له خوا منظور شوې ځانګړې محکمه خپله پریکړه صادره او بیا ملي شورا پرانیزئ.

نجیب الله مجاهد له حامد کرزي څخه وغوښتل چې د خلکو د حقونو دفاع وکړي او پرې نه ږدي چې هغه کسان پارلمان ته لاره پیدا کړي چې د ټنونو نیشه یې توکو په قاچاق کې نیول شوي دي. ده پر حامد کرزي ټینګار وکړ چې دهېواد د جمهور رئیس په توګه فضل احمد معنوي ته د دې اجازه ورنه کړي چې د دې هېواد د خلکو په برخلیک لوبې وکړي. په دې غونډه کې یو بل تن له حامد کرزي څخه وغوښتل چې استعفا وکړي او له خلکو بخښنه وغواړي او ووایي چې زه د زورورو په وړاندې نه شم دریدلای.

حاجي فرید دهېواد جمهور رئیس مخاطب کړ او وې ویل: ما دا لس کاله فکر کاوه چې ته د افغانستان جمهور رئیس یې، خو اوس راته دا څرګنده شوه چې ته جمهور رئیس نه، بلکې یو مظلوم یې او دخپل فرمان دفاع هم نشې کولای نو د دې خلکو دفاع به څنګه وکړې. حاجي فرید زیاته کړه: ما فکر کاوه چې افغانستان یوازې د افغانانو دی خو اوس پوه شوم چې دا هېواد د ایکن بیري او د میستورا دی چې هغوی یې په اړه پریکړې کوي. جمهور رئیس حامد کرزي د معترضو کاندیدانو د غوښتنو له آوریدو وروسته وویل:

دانتخاباتي درغلیو د څېړنې محکمې له جوړیدو وروسته دغې محکمې له ستري محمکې یوه میاشت وخت وغوښت چې انتخاباتي درغلی په ښه ډول وڅېړي چې موږ هم ددغې محکمې وړاندیز ومانه خو وروسته یو شمېر بهرنیو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لاسونو زموږ د پریکړو تر پوښتنې لاندې راوستلو او په دې هېواد کې د بحران د رامنځته کولو لپاره په تحرکاتو پیل وکړ او کاندیدانو ته یې ویلي و چې له جمهور رئیس پرته ملي شورا پرانیزی موږ درسره یو.
حامدکرزي وویل : ددې لپاره چې هېواد مو له بهرنیو لاس وهنو او بحران څخه ژغورلی وي نو پریکړه مو کړه چې له بریالیو کاندیدانو سره وګورو او په هغو دا ومنو چې د ملي شورا له پرانیستلو وروسته هم د انتخاباتي درغلیو د څېړنې د محکمې پریکړې ومني، چې موږ له هغوی څخه په دې اړه لیکلی سند هم اخیستی او ستري محکمې ته مو استولی دی چې د سترې محکمې عالي شورا هم لیکلي دي چې د کوم شخص د مرګ له حکم پرته چې هغه د جمهور رئیس منظوری ته اړتیا لري، د اساسي قانون د ۱۲۹ مادې له مخې د محکمو ټولې قطعي پریکړې واجب التعمیل دي. موږ د سترې محکمې د عالي شورا مصوبې ته په احترام او د دې لپاره چې د ۱۳۸۹ لمریز کال په انتخاباتو پورې اړوندې دعوې د ځانګړې محکمې له خوا څېړل کیږي نو تصمیم مو ونیوه چې د روان کال د سلواغې په شپږمه ملي شورا پرانیزو چې دا کار د افغانستان په خیر دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ